مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۰۶/۳۰

# مغز مینځنه

وطندوستي، نیمه رواني غریزه ده او نیمه نوره یې اخلاقي پاڼه (مسئولیت).

تاسو به د مغز مینځنې (Brain Washing) اصطلاح اورېدلې وي؟

مغز مینځنه د عقل پر وړاندې د ایډیولوژی سیستماتیکه کودتاه ده، چې غریزي او طبیعي ارزښتونه له منځه وړي او په عقیدوي تلقیناتو یې ځای ورډکوي.

په ګاونډ کې د افغانستان دوښمنانو دا مهارت موندلی، چې څنګه په خپلو استخباراتي مدرسو کې د افغان محرومو زلمکیانو د مغزمینځنې فورمول پلی کړي؟ تر دې بریده یې له ځانه پردي کوي، چې دا زلمکیان خپله ملي شتمنی، د مور تیکری، د خور پړونی او د وطن د ماشوم اوښکې هم دوښمن ته ورسوغاتوي.

پر فیسبوک او نورو ټولیزو شبکو د (وجدان)، (ضمیر)، (احساس)، (وطندوستی)، (مغزمینځنې)، (ارزښتونو)، (خپلولي)، (ځان پردیتوب) او داسې نورو اصطلاحاتو بحثونه راپورته کړئ، دیسکورسونه رامنځته کړئ...

دا به راهسکېدونکی افغان نسل نویو مسایلو ته متوجه کړي. ښایي دوی پر دې فکر وکړي، چې د وطن وسله، ګاډي او ټانکونه د سر او خاورې دوښمن ته سپارل څه مانا؟ او ولې؟

ځیرشئ، چې جنت ته رسېدل یې څنګه راته تعریف کړي دي؟

لږ ولس راویښ کړئ، چې جنت ته رسېدل، ملي شتمنی دوښمن ته ورکول نه دي.

اوږدمهالي محرومیت، فقر، لوږې او جهل دې ځای ته راورسولو، چې ملي ناموس ګاونډي ته سپارو، د دې لپاره چې جنت ته ولاړ شو؟!




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ